# نیو لبرالزم او بنیاد پرستي

لیکواله : رفعیه زکریه

ژباړه : شیرجان تکل

په ښکاره خو د طالبانو تحریک او د نیو لبرل مارکیټ ترمېنځ تضاد ښکاري خو په اصل کښې دواړه د یو بل سره نزدې تړون لري. په نړیوال سیاست کښې طالبان یوه داسې پدیده (Phenomenon) دي څوک چې د نوښت (جویدیت) او روښن فکرۍ غندنه کوي. طالبان په لوڅه وحشي توګه د اولس په مخ په ډیره او پرده باندې له خلقو پېښې او لاسونه پرې کوي. او د ملټي نیشنل کاروباري ادارو د تګ لارو هم مخالفت کوي. کومې چې د نړیوال څارګري بانک (International Monetary fund) او نړیوال بانک (World Bank) تر سیوري لاندې کار کوي.

په ښکاره خو دا دوه متضاد قوتونه دي ځکه خو په ساده منطق کښې دغه ټوله پروسه ډېره دلچسپه ښکاري خو په اصل کښې د ایمپیریلزم (Imperialism) په خاصه دوره کښې پېداوار دي. هم دغه ئې اصل تشریح ده. د شتمنو هېوادونو لاندې کارکونکي ادارې او د طالبانو د روښن فکرۍ مخالفت ترمېنځ چې کوم مخاصمت (تضاد) پروت دے هم په دغه اړه پوهان مسعود راجه څېړنه او تجزیه کړې ده. کوم چې د نو ابادیاتي پېر وروسته (Post Colonial) لېکوال دے. لیکوال په خپل تهیسیس (Thesis) نیو لبرل رجحانات او د بنسټ پالنې وده کښې د پاکستان په تناظر کښې د بنیادپرستۍ او نیو لبرلزم ترمېنځ موجود تړون ته زمونږ فکر را اړوي. د دوي مقاله په لاندې قضیو (premises) باندې اډانه ده. لومړے لیکوال د غرب د بورژوا لیکوالانو له دغه پوزیشن سره اتفاق نه کوي کوم چې مذهبي بنیاد پرستۍ ته خودرو حقیقي بڼه ورکوي او شالید (Background) ئې په ایماني اعتقاداتو کښې ګوري. ګواکې ټوله ستونزه په ایمان کښې ده. هغوي دغه ټولې ستونزې ته په خاص تاریخي او سیاسي شالید (پس منظر) کښې نه ګوري.

دویم ګلوبلائزیشن (Globalization) که هر څو د دغه د تشریح په وخت وئیل کېږي چې عالمګیریت خو د شتمنو او غریبو هېوادونو ترمېنځ د توپیر له منځه وړلو لپاره وي. خو همېشه پخوانیو استعماري هېوادونو اوس هم په مخکینو محکومو هېوادونو باندې معاشي او سیاسي غلبه جاري ساتلې ده.

نیو لبرل ریاستونه نجکاري(Privatization)

ته وده ورکوي. کارپوریټ سیکټر ته لاره هواره وي چې په نتیجه کښې ئې پرائیویټ تنظیمونه هغه ذمه وارۍ ترسره کول پیل کړي کوم چې په اصل کښې د ریاست ذمه داري وي. د پاکستان په معامله کښې هم دغه درې عناصرو (بنیاد پرستۍ،ګلوبلائزیشن او شخصي تنظیمونه) خپل منځي تړون له ۱۹۷۰ را روسته په مربوطه توګه جوړ کړي دي. ورپسې د جنرل ضیاء الحق اسلامائزیشن نوره وده ورکړه. د سویت افغان جنګ خاتمه په داسې وخت کښې منځ ته راغې کله چې د نړیوال اقتصاد شکل له نوي سره تشکلیږي.

د نیو لبرل پروګرام په نتیجه کښې دا هم ښېخي نه ده ضروري چې ریاست دې په مکمل ډول له خپلو فرائضو لاس واخلي. یا دې خپل فرائض بلې کومې ادارې ته وبخښي. بلکې ریاست مارکیټ ته لاره هواره وي او په صارفي بنیاد ولاړ اقتصادي منډهۍ (Market) ته وده ورکوي د دریمې دنیا په نیم ترقي یافته هېوادونو کښې د دغسې اقداماتو په نتیجه کښې خپله ریاستي وجود د بحران سره مخ شي.

د پاکستان په شکل کښې چې دلته کومه ریاستي خلا ده هغه مذهبي بنیاد پرستو ډکه کړې ده. په خاصه توګه د ریاستي ادارو لخوا د پاکیزګۍ په نوم په مذهبي څادر کښې پټې فلسفې ته وده ورکول کېږي. په پاکستان کښې د پرائیویټائزیشن (نجکاري) په نوم په خاصه توګه مذهبي خیراتي تنظیمونو ته وده ورکړل شوې ده. وروسته دغه مذهبي خیراتي ادارو هغه رول واخیست کوم چې په اصل کښې د ریاست په فرائضو کښې شامل ؤ.

د تعلیم (پوهنې) ذمه واري مدرسو واخیسته. هم دغه ټولو حالاتو ریاست دې ته اړ کړو چې هغه د نورو داسې ذریعو لټون وکړي چې په نتیجه کښې د ضرورت په وخت ریاست د خپل قانوني قوت اظهار کوي. په اسلامي قوانینو کښې موجود د خپر ښېګړې نقطو ته ریاست هیڅ پاملرنه نه کوي ولې چې ریاست خو د مخکښې نه دغه رول له لاسه ورکړے دے بلخوا ریاست په ظاهري اخلاقي مسئلو باندې زور راوړي د مثال په توګه په روژه کښې د خوراک څښاک او توهین رسالت مسئله.... دا خبره هیڅ له حیرانتیا ډکه نه ده چې د تابیت (Citizenship) تشریح په مذهبي اصطلاح کښې کېدل پېل شي. هم دغه علت دے چې له دغه ټول عمل زیاتره اقلیتونه او ښځې متاثره کېږي. نور خو لا نور د ښه او بد پاکستاني معیار هم د مذهب په چشمو کښې تَلل کېږي.

د راجه له څېړنې چې کومه اهمه نتیجه راوځي هغه د بنسټ پالنې په روزنه او تشکیل کښې خاص تاریخي،سیاسي او عالمي محرکات دي. کله چې ریاست د خپر ښېګړې له کارونو په

شا شي او خپل فرائض تقسیم کړي نو هغه د خپل وجود د قانوني جواز دپاره له نیکۍ او تقوی مرسته اخلي. هغه غیر ریاستي عناصر کوم چې ریاست ته ګواښ جوړه وي د هغوي په ضد چې کله ریاست قدم اخلي نو بهانه ئې هم دغه مذهبي، خیالي،ایماني مجرد (Abstract) اصول وي. بل خوا ته غیر ریاستي عناصر هم په دغه فلسفه په ریاست ګزار کوي.

نن طالبان د ریاست په هغه ځایونو کښې خپلو قوانینو ته عملي بڼه ورکوي چرته چې ریاستي خلاء (Space) موجود ده. دغه ټول عمل د اسلام په نوم ترسره کېږي چې هدف ئې د تقوی او نیکۍ بهیر ته پرمختګ ورکول وي. که ریاست د داسې قانون تشکیل کوي چې په روژه کښې به هیڅ څوک په ښکاره خوراک او څښاک نه کوي. نو طالبان یو قدم مخ ته ځي. که ریاست د اساسي قانون په رڼا کښې په یو څو لوړو ریاستي څوکیو باندې اقلیتونو ته د نمائندګۍ حق نه ورکوي نو طالبان ئې له وجوده چورلټ انکار کوي.

د دغسې شرمناکې مقابلې په ترځ کښې مذهبي رسمونو خپل روحاني مقصد له لاسه ورکړے او حیثیت ئې صرف تر ظاهري عمل پورې محدوده پاتې شوے دے. د دغې ټولې پروسې په نتیجه کښې ریاستي او غیر ریاستي عناصر یو بل چیلنج کوي او په نتیجه کښې ئې عام اولسونه په پرله پسې توګه له معاشي او ټولنیز جبر سره مخ وي. د استعماري پیر را روسته (Post Colonial) ځینې لیکوالانو دا نظر درلود چې ګواکې اسلامي بنیاد پرستۍ سامراج مخالفه ده. ځکه دغه د سامراجیت (Imperialism) او نیو لبرالزم (Neoliberalism) هم په ضد ده یوه محدوده او غلطه نظریه ده. که د دغه عمل تاریخي تجزیه وکړل شي نو عالمي مالیاتي فشار په ریاست اغېزه کوي چې په نتیجه کښې ئې ریاست له خپلو کلاسیک ویلفئر فرائضو نه وروسته کېږي. په خاصه توګه دغه ټوله پروسه د نړیوال ځارګري بانک (IMF) او نړیوال بانک په خاصو شرائطو ترسره کېږي هم دغه ئې علت دے چې د بنسټ پالنې (Fundamentalism) په دوام داره توګه تشکیل کېږي.

دغه ټول بهیر د بنیاد پرستۍ (بنسټ پالنې) انکشاف (څرګندونه) کوي او په خاصه توګه د پاکستاني ریاست په تناظر کښې د بنیاد پرستۍ سوب جوړېږي. د دغه عمل ژور تړون له نړیوال فشاره رازیږي. ځکه اسلامي بنسټ پالنه سامراج مخالفه نه ده بلکې په عالمګیر توګه موجود د عدم مساواتو او د بورژوا نړیوال بین الاقوامي میکانزم نتیجه ده.

☆☆☆